# د بشر د حقوقو نړیواله اعلامیه

# اعلامیه جهانی حقوق بشر

Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

ketabton.com - The Digital Library



## د بشر د حقوقو نړيواله اعلاميه

**د ۱۹٤۸ د ډسمبر ۱۰ (۱۳۲۷/۹/۱۹ لمريز کال)**

**د ملګرو ملتونو سازمان د عمومي غونډې مصوبه**

**سريزه:**

څرنګه چې د بشري کورنۍ د ټولو غړو ذاتي کرامت او د دوي د برابرو او نالیږد یو یا نه بیلیدونکو حقوقو پیژندل په نړۍ کې د سولې، آزادۍ او عدالت بنسټ جوړوي. څرنګه چې د بشري حقونو څخه بی خبری او سپکاوی د داسې وحشیانه کړو او عملونو لامل ګرځیدلی چې د بشریت ضمیر یې سخت زیانمن کړی او د هغې نړۍ زیږیدنه چې انسانان په کې د عقیدې او اندونو په بیانولو کې آزاد او له هر ډول ویرې او نیستۍ څخه لیرې او خوندي وي، د بشر د خورالوړو ارمانونو او غوښتنو په څیر اعلام شوي ده. څرنګه چې ډیره لازمي بریښي د نړیوالو ټولنو ترمنځ دې د اړیکو پراختیا و هڅول شي. څرنګه چې د ملګرو ملتونو خلک د همدې سازمان په منشور کې د بشر په بنسټیزو حقوقو، د انسان کرامت او ارزښت او د ښځې او نارینه د انډولو حقوقو په باب خپله باورمندي او عقیده په تکراري ډول سره تائید او اعلام کړې ده او رغنده پریکړه یې کړې ده چې ټولنیز پرمختګ سره به مرسته کوي او په آزاد ماحول کې به غوره ژوندون منځ ته راوړي. څرنګه چې د دې حقوقو او آزادیو په اړه د نظر او پوهې یو والي د دې ژمنې د بشپړې پلي کولو لپاره خورا ارزښت او اهمیت لري نو، د ملګرو ملتونو عمومي ټولنه د بشر د حقوقو دغه نړیواله اعلامیه د یوه ګډ آرمان په توګه ټولو خلکو او ملتونو ته اعلاموي. تر څو ټول خلک او د ټولنې هر غړې

## اعلامیه جهانی حقوق بشر

**مصوب ۱۰ دسمبر ۱۹٤۸ میلادی (مطابق ۱۳۲۷/۹/۱۹ شمسی)**

**مجمع عمومی سازمان ملل متحد**

**مقدمه:**

از آنجا که شناسایی حیثیت ذاتی کلیه اعضای خانواده بشری و حقوق یکسان وانتقال ناپذیر آنان اساس آزادی، عدالت وصلح را در جهان تشکیل میدهد. از آنجا که عدم شناسایی و تحقیر حقوق بشر منتهی به اعمال وحشیانه یی گردیده است که روح بشریت را به عصیان وا داشته و ظهور دنیای که در آن افراد بشر در بیان عقیده، آزاد واز ترس وفقر، فارغ باشند به عنوان بالاترین آمال بشر اعلام شده است. از آنجا که اساساً حقوق انسانی را باید با اجرای قانون حمایت کرد تا بشر به عنوان آخرین علاج به قیام برضد ظلم وفشار مجبور نگردد. از آنجا که اساساً لازم است توسعه روابط دوستانه بین الملل را مورد تشویق قرار داد. از آنجا که مردم ملل متحد، باور خود را به حقوق اساسی بشر و مقام و ارزش فرد انسانی و تساوی حقوق زن و مرد مجدداً در منشور، اعلام کرده اند و تصمیم راسخ گرفته اند که به پیشرفت اجتماعی کمک کنند و در محیط آزاد، وضع زنده گی بهتر بوجود آورند. از آنجا که دول عضو متعهد شده اند که احترام جهانی و رعایت واقعی حقوق بشر و آزادی های اساسی را با همکاری سازمان ملل متحد تأمین کنند. از آنجا که حسن تفاهم مشترکی نسبت به این حقوق و آزادی ها برای اجرای کامل این تعهد کمال اهمیت را دارد. مجمع عمومی این اعلامیه جهانی حقوق بشر را آرمان مشترکی برای تمام مردم و

ketabton.com - The Digital Library



دغه اعلامیه په پام کې ونیسي او په پرله پسې ډول کوښښ وکړي چې د ښوونې او روزنې لـه لارې دغو حقوقـو او آزادیـو تـه درنـاوی پراختیـا او وده ومومي او د ملي او نړیوالو ګام په ګام پریکړو سره د هغـوی بشـپړه پیژندنـه او عملـي کـول د غـړو هیوادونو او څه د هغه هیوادونو خلکو ترمنځ چې د دوی د واکمنـۍ پـه حـدودو کـې دي ټینګښـت ومومي.

کلیه ملل اعلام میکند. تا جمیع افراد و همه ارکان اجتماع این اعلامیه را دایماً مدنظر داشـته باشـند و مجاهدت کنند که به وسیله تعلیم و تربیت، احترام به این حقوق و آزادی ها توسعه یابـد و بـا تـدابیر تـدریجی ملـی و بـین المللـی شناسـائی و اجـرای واقعی و حیاتی آنها چه در میان خـود ملـل عضـو وچه در بین مردم کشور های کـه در قلمـرو آنهـا می باشند تأمین گردد.

**لومړۍ ماده:**

ټـول انسـانان آزاد نـړۍ تـه راځـي او د حقوقـو او حیثیت له پلوه سره برابر دي. ټول د عقل او وجدان درلـودونکې دي او بایـد یـو لـه بـل سـره د ورور ګلوۍ په روحیه چلند وکړي.

**مادهٔ اول:**

تمام افراد بشـر آزاد بـه دنیـا مـی آینـد واز لحـاظ حیثیت وحقوق باهم برابرنـد، همـه دارای عقـل و وجدان میباشند وباید نسبت بـه یکـدیگر بـا روح برادری رفتار کنند.

**دوه یمه ماده:**

هر څوک کولای شي چې د هر ډول توپیر پرته په ځانګړي ډول د توکم، رنګ، جنس، ژبې، مذهب، سیاسـي عقیـدي او هـره بلـه عقیـده، ملیـت، ټـولنیز موقف، شتمنی، زیږیدنه یا د هر بل موقف د په نظر کې نیولو پرته د هغوی ټولو حقونو او آزادیو څخه ګټه واخلي کوم چـې پـه دې اعلامیـه کـې یادونـه شوې ده. برسیره پردې لـه هیچـا سـره بـه د هغـه د ملك یا سیمی د سیاسي، اداري، قضائي یـا نړیوالـه موقف پر بنسټ تبعـیض ونشـي، کـه څـه هـم هغـه ملـك یـا سـیمه چـې شـخص ورپـورې تړلـې وي خپلـواك، تـرلاس لانـدې، غیـر مختـار او یـا یـې حاکمیت په یو ډول محدود وي.

**مادهٔ دوم:**

هرکس میتواند بدون هیچ گونه تمـایز، مخصوصـاً از حیث نژاد، رنگ، جنس، زبان، مـذهب، عقیـدهٔ سیاسی یا هـر عقیـدهٔ دیگـر و همچنین ملیت هـا وضـع اجتمـاعی، ثـروت، ولادت یـا هـر موقعیـت دیگـر از تمـام حقـوق و کلیـه آزادیهـای کـه در اعلامیه حاضر ذکر شده است بهره مند گـردد. بـر علاوه هیچ تبعیضی به عمل نخواهد آمد که مبتنی بـر وضـع سیاسـی، اداری، قضـائی یـا بـین المللـی کشور یا سرزمینی باشد کـه شـخص بـه آن تعلـق دارد، خواه این کشور مستقل، تحـت قیمومـت یـا غیر خود مختار بـوده یـا حاکمیـت آن بـه شـکلی محدود شده باشد.

**دریمه ماده:**

هر څوک د ژوند، آزادۍ او شخصـي امنیـت حـق لري.

**مادهٔ سوم:**

هر کس حـق زنـدگی، آزادی و امنیـت شخصـی دارد.

**څلورمه ماده:**

نـه شـــو کـولای هیڅـوك پـه مریـي تـوب کـې وسـاتو او پـه هـــره بڼـــه د مریـي تـوب پـه ډول

**مادهٔ چهارم:**

احـــدی را نمیـــتوان در برده گی نگـاه داشـت و داد وستد بـــرده گـان بـه هـر شـکلی کـه باشـد

ketabton.com - The Digital Library



پیرودل منع دي.

**پنځمه ماده:**
نشو کولای چې هیڅوک تر ربړونې، کړاو او یا داسې چلند لاندې راولو چې ظالمانه د انسانیت خلاف او له سپکاوي ځخه ډک وي.

**شپږمه ماده:**
هر څوک حق لري هر چېرته چې وي، د هغه حقونو شخصیت د قانون په وړاندي د یوه انسان په څیر وپیژندل شي.

**اوومه ماده:**
ټول د قانون په وړاندې یو برابر دي او حق لري چې د هر ډول تبعیض پرته د قانون د ملاتړ څخه برخمن شي، ټول حق لري چې د هر هغه تبعیض په وړاندې چې د دې اعلامیې څخه سرغړونه کوي او یا د هغې لمسونې په مقابل کې چې داسې تبعیض ته لمن وهي په برابره توګه د قانون د ملاتړ څخه برخمن شي.

**اتمه ماده:**
د هغو عملونو په وړاندي چې د یو وګړي په بنسټیزو حقونو تیري وکړي او هغه د اساسي قانون او یا کوم بل قانون له خوا هغه ته ورکړل شوي وي هر څوک حق لري چې صلاحیت لرونکو ملي محکموته مراجعه وکړي.

**نهمه ماده:**
هیڅوک پــــه خپل سر توقیف، بندي یا تبعید کېداي نشي.

**لسمه ماده:**
هر څوک بشپړه مساوي حق لري چې دعوه یې د یوې ناپییلې او مستقلې محکمې له خوا په ښکاره او منصفانه توګه تر غور لاندې ونیول شي، او دغه

ممنوع است.

**مادهٔ پنجم:**
احدی را نمیتوان تحت شکنجه یا مجازات یا رفتاری قرار داد که ظالمانه ویا برخلاف انسانیت وشئون بشری یا موهن باشد.

**مادهٔ ششم:**
هرکس حق دارد که شخصیت حقوقی او در همه جـــا بـه عــــنوان یـک انسان در مقابل قانون شناخته شود.

**مادهٔ هفتم:**
همــــه در بــــرابر قانون مساوی هستند و حق دارند بدون تبعــــیض وبالــــسویه از حــــمایت قـــانــــون بر خــــوردار شــــوند در مقابل هر تبعیضی که ناقض اعــــلامیه حــــاضر باشد وبر علیه هر تحــــریکی که برای چنین تبعیضی به عمل آید بطــــور تــــساوی از حــــسمایت قانون بهره مند شوند.

**مادهٔ هشتم:**
در برابر اعمالی که حقوق اساسی فرد را مورد تجاوز قرار بدهد و آن حقوق به وسیله قانون اساسی یا قانون دیگری برای او شناخته شده باشد، هرکس حق رجوع مؤثر به محاکم ملی صالحه دارد.

**مادهٔ نهم:**
احــدی نمیــتواند خودسرانه توقیف، حبس یا تبعید شود.

**مادهٔ دهم:**
هــرکــــس بـا مساوات کامل حق دارد که دعوایــش به وسیله محکمه مستقل وبیطرفی، منصفانه و عــــلناً رســــیده گی شود و چنین

ketabton.com - The Digital Library



شان محکمه د ده په حقوقو او الزاماتو او یا هر جزائي تور چې په ده لګول شوي دي، لازمه پریکړه وکړي.

**یوولسمه ماده:**

۱- هر څوک چې په کوم جرم تورن شوي وي حق لري تر هغه بې ګناه وګڼل شي تر څو یې جرم په داسې یوه ښکاره محکمه کې ثابت شوي نه وي، چې تورن پکې د خپل دفاع لپاره ټول ضروري او رسمي تضمینونه ولري.

۲- هیڅوک د داسې اعمالو تر سره کولو یا نه کولو په وجه محکوم کېداي نه شي، چې د اجرأ په وخت کې د ملي یا نړیوال قانون په وړاندې جرم نه شمېرل کېده، دغه راز هیڅوک د یوه جرم د کولو په وجه، له هغه سخته سزانه ویني چې د جرم د اجرأ کېدو په مهال کې د هغه جرم لپاره ټاکل شوي وه.

**دولسمه ماده:**

د هیچا په محرمیت، کورنۍ، د اوسیدو ځاي او لیکونو کې لاس وهنه نه کیږي او نه یې په نوم او حیثیت تیري کېداي شي، هر څوک د دې ډول یرغل یا لاس وهني په وړاندي د قانوني ساتني حق لري.

**دیارلسمه ماده:**

۱- هر څوک حق لري چې د هر هېواد په دننه کې په آزادانه توګه د تلو او استوګنې ځاي غوره کړي.

۲- هر څوک آزادئ او حق لري د خپلې استوګنې ځاي بدل کړي، او حق لري په هر هېواد کې چې وغواړي ژوند وکړي او یا هغه پریږدي.

محکمهٔ در باره حقوق والزامات او یا هر اتهام جزائی که به او منسوب شده باشد اتخاذ تصمیم بنماید.

**مادهٔ یازدهم:**

۱- هرکس که به جرمی متهم شده باشد بی گناه محسوب خواهد شد تا وقتی که در جریان یک دعوای عمومی که در آن کلیه تضمینهای لازم برای دفاع او تأمین شده تقصیر او قانوناً محرز گردد.

۲- هیچ کس برای انجام یا عدم انجام عملی که در موقع ارتکاب آن عمل به موجب حقوق ملی یا بین المللی جرم شناخته نشود محکوم نخواهد شد به همین طریق هیچ مجازاتی شدید تر از آنچه که در موقع ارتکاب جرم بدان تعلق میگرفت درباره احدی اعمال نخواهد شد.

**مادهٔ دوازدهم:**

احدی در زنده گی خصوصی، امور خانواده گی، اقامتگاه یا مکاتبات خود نباید مورد مداخله های خود سرانه واقع شود و شرافت و اسم و رسمش نباید مورد حمله قرار گیرد، هرکس حق دارد که در مقابل این گونه مداخلات و حملات، مورد حمایت قانون قرار گیرد.

**مادهٔ سیزدهم:**

۱- هر کس حق دارد که در داخل هر کشوری آزادانه عبور و مرور کند ومحل اقامت خود را انتخاب نماید.

۲- هرکس حق دارد هر کشوری واز جمله کشور خود را ترک کند یا به کشور خود باز گردد.

ketabton.com - The Digital Library



**څوارلسمه ماده:**

۱- هر څوک حق لري، چې له ځوروني او تعقیب څخه پرته په نورو ملکونو کې پناه وغواړي.

۲- که چېري تعقیب د غیر سیاسي جرم او یا داسې اعمالو د کولو په وجه وي، چې د ملګرو ملتونو له مقصدونو او اصولو سره ټوپیر ولري له دغه حق څخه ګټه نشي پورته کېداي.

**مادهٔ چهارده هم:**

۱- هرکس حق دارد در برابر تعقیب، شکنجه وآزار، پناهنده گی جستجو کند و در کشور های دیگر پناه اختیار نماید.

۲- در موردی که تعقیب واقعاً مبتنی به جرم عمومی و غیره سیاسی یا رفتار های مخالف با اصول مقاصد ملل متحد باشد، نمیتوان از این حق استفاده نمود.

**پنځلسمه ماده:**

۱- هر څوک د تابعیت د درلودلو حق لري.

۲- نشو کولاي هیڅوک د تابعیت درلودلو له حق څخه بې برخي کړو.

**مادهٔ پانزدهم:**

۱- هرکس حق دارد که دارای تابعیت باشد.

۲- احدی را نمیتوان خود سرانه از تابعیت خود یا از حق تغییر تابعیت محروم کرد.

**شپارسمه ماده:**

۱- هر بالغ نارینه او ښځینه بې له هیڅ ډول محدودیته لکه توکم، ملیت یا دین له اړخه حق لري چې واده وکړي او کورنۍ جوړه کړي دوي د واده کولو، د واده په وخت او د هغه په فسخ کولو کې مساوي او برابر حق لري.

۲- واده باید د دواړو لورو (ښځي او نارینه) په بشپړ رضایت او خوښي سره وشي.

۳- کورنۍ د ټولني بنسټیز او طبیعي غړي دي او حق لري چې د ټولني او دولت له خوایې ملاتړ وشي.

**مادهٔ شانزدهم:**

۱- هر زن و مرد بالغی حق دارد بدون هیچ گونه محدودیت از نظر نژاد، ملیت، تابعیت، یا مذهب با همدیگر زناشویی کنند و تشکیل خانواده دهند. در تمام مدت زناشویی و هنگام انحلال آن، زن و شوهر در کلیه امور مربوط به ازدواج، دارای حقوق مساوی میباشند.

۲- ازدواج باید با رضایت کامل و آزادانه زن و مرد واقع شود.

۳- خانواده رکن طبیعی و اساسی اجتماع است و حق دارد از حمایت جامعه و دولت بهره مند شود.

**اوه لسمه ماده:**

۱- هر وګړی د ځانګړي او یا ګډ ملکیت درلودلو حق لري.

۲- هیڅوک د ملکیت درلودلو حق څخه محروم کولي نه شو.

**مادهٔ هفدهم:**

۱- هر شخص، منفرداً یا بطور جمعی حق مالکیت دارد.

۲- احدی را نمیتوان خودسرانه از حق مالکیت محروم نمود.

ketabton.com - The Digital Library



**اتلسمه ماده:**

هر څوک حق لري چې د فکر، وجدان او مذهب د آزادئ څخه برخمن شي، دا حق د مذهب او عقيدي د بدلولو متضمن دي او همدارنګه دا حق يوازي يا له نورو سره په ګډه، په ښکاره يا په خصوصي توګه د خپلې عقيدي يا دين په تدريس، عمل، عبادت کولو او ديني مراسمو د اجرأ کولو، آزادئ متضمن وي.

**مادۀ هجده هم:**

هرکس حق دارد که از آزادی فکر، وجدان ومذهب بهره مند شود. این حق متضمن تغییر مذهب یا عقیده وهمچنین متضمن آزادی اظهار عقیده و ایمان میباشد ونیز شامل تعلیمات مذهبی و اجرای مراسم دینی است. هرکس میتواند از این حقوق منفرداً یا جمعاً به طور خصوصی یا به طور عمومی برخوردار باشد.

**نولسمه ماده:**

هر څوک د بيان او د عقيدي آزادئ حق لري پدي حق کې هغه آزادئ شامله ده چې يې څوک له خپلې عقيدي او نظر درلودلو څخه ويره او انديښنه ونلري او د عقايد و او معلوماتو په پلټنه او لاس ته راوړنه کې د کوم بريد او سرحد پرته آزاد وي.

**مادۀ نزدهم:**

هرکس حق آزادی عقیده و بیان دارد و حق مزبور شامل آن است که از داشتن عقاید خود بیم واضطرابی نداشته باشد ودر کسب اطلاعات و افکار ودر اخذ وانتشار آن با تمام وسایل ممکن و بدون ملاحظات مرزی، آزاد باشد.

**شلمه ماده:**

۱- هر څوک حق لري چې په آزاد ډول سوله ييزي اتحاديې او ډلې جوړې کړي.

۲- هيڅوک په يوې ټولني کې د ګډون په خاطر نه شو مجبور کولې.

**مادۀ بیستم:**

۱- هرکس حق دارد آزادانه مجامع و جمعیتهای مسالمت آمیز تشکیل دهد.

۲- هرکس را نمیتوان مجبور به شرکت در اجتماعی کرد.

**يو ويشتمه ماده:**

۱- هر څوک حق لري چې څه په مستقيمه توګه او يا د خپلو استازو له لياري يا په آزاد ډول انتخاب شوي دي د خپل هېواد په عمومي اداري چاروکې ګډون وکړي.

۲- هر څوک حق لري، چې په برابره توګه په خپل ملک کې له عامه خدمتونو څخه ګټه واخلي.

۳- د خلکو اراده د حکومت واک او بنسټ دي، دغه اراده بايد په نوبتي ډول درښتينو انتخاباتو د لاري څرګنده شي چې دغه انتخابات بايد په

**مادۀ بیست ویکم:**

۱- هرکس حق دارد که در اداره امور عمومی کشور خود، خواه مستقیماً وخواه با وساطت نمایندگانی که آزادانه انتخاب شده باشند، شرکت جوید.

۲- هرکس حق دارد که با تساوی شرایط، با مشاغل عمومی کشور خود نایل آید.

۳- اساس ومنشاء قدرت حکومت ارادۀ مردم است این اراده باید به وسیله انتخاباتی بر گزار گردد که از روی صداقت وبه طور ادواری

ketabton.com - The Digital Library



عمومي او د برابرۍ په پام کې نيولو سره د پټې رأي او يا نورو انتخاباتي بيلګو په ډول داسې سرته ورسيږي چې د رأيو آزادۍ تأمين کړي.

**دوه ويشتمه ماده:**

هر څوک د ټولني د يوه غړي په توګه د ټولنيز مصؤنيت حق لري او ښايي چې د ملي هڅو او نړيوالو مرستو له لیارې د هر دولت د سازمان او منابعو سره سم هغه اقتصادي، ټولنيز او کلتوري حقوق تر لاسه کړي، چې د ده د حيثيت او د شخصيت د آزادۍ ودې لپاره اړين وي.

**در ويشتمه ماده:**

۱- هر څوک حق لري چې کار وکړي، په آزاد ډول ځانته کار غوره کړي د کار عادلانه او منصفانه شرايط ولري او د بې کارۍ په وړاندې يې حمايت او ملاتړ وشي.

۲- ټول حق لري چې د کار په وړاندې د هر ډول تبعيض پرته برابره اجوره تر لاسه کړي.

۳- هر څوک چې کار کوي د مناسب معاش حق لري، چې د ده او د ده د کورنۍ لپاره د بشري کرامت وړ ژوند تضمين کړي او که ضروري وي حق لري، چې د نورو ټولنيزو محافظتي وسايلو په ذريعه تقويه شي.

۴- هر څوک حق لري د خپلو ګټو د دفاع لپاره د نورو سره اتحاديې جوړې کړي او په دا راز اتحاديو کې ګډون وکړي.

**څلير ويشتمه ماده:**

هر څوک د تفريح او استراحت حق لري، د کار د ساعتونو د مناسب محدوديت او نوبتي رخصتيو چې معاش ورته ورکول کيږي حق لري.

صورت پذیرد، انتخابات باید عمومی و با رعایت مساوات باشد و با رأی مخفی یا طریقهٔ نظیر آن انجام گیرد که آزادی رأی را تأمین نماید.

**مادهٔ بیست ودوم:**

هرکس به عنوان عضو اجتماع حق امنیت اجتماعی دارد ومجاز است وبه وسیله مساعی ملی و همکاری بین المللی، حقوق اقتصادی، اجتماعی و فرهنگی خود را که لازمه مقام و رشد آزادانهٔ شخصیت اوست با رعایت تشکیلات و منابع هرکشور به دست آورد.

**مادهٔ بیست وسوم:**

۱- هرکس حق دارد کار کند، کار خود را آزادانه انتخاب نماید، شرایط منصفانه و رضایت بخشی برای کار خواستار باشد ودر مقابل بیکاری مورد حمایت قرار گیرد.

۲- همه حق دارند که بدون هیچ تبعیضی در مقابل کار مساوی، اجرت مساوی دریافت دارند.

۳- هر کس که کار میکند مستحق مزد منصفانه و رضایت بخشی است که زنده گی او و خانواده اش را موافق شئون انسانی تأمین کند و آنرا در صورت لزوم با هر نوع وسایل دیگر حمایت اجتماعی، تکمیل نماید.

٤- هر کس حق دارد که برای دفاع از منابع خود با دیگران اتحادیه تشکیل دهد و در اتحادیه ها نیز شرکت نماید.

**مادهٔ بیست و چهارم:**

هرکس حق استراحت و فراغت و تفریح دارد و مستحق محدودیت معقول ساعات کار و مرخصیهای ادواری، با اخذ حقوق میباشد.

ketabton.com - The Digital Library



**پنځه ویشتمه ماده:**

۱- هر څوک حق لري چې د خپل او خپلې کورنۍ، ژوندون کچه، روغتیا او هوساینې (خوراک، استوګنې ټولنیز او روغتیایي خدمتونو له پلوه تأمین کړل شي او همدا راز حق لري چې د بیکارۍ، ناروغۍ، معیوبتیا او ناتوانۍ، کونډتوب، زوړوالي او په داسې شرایطو کې چې د معیشت وسایل یې له لاسه تللي وي، د عزتمن او آبرومندانه ژوندانه نه برخمن شي.

۲- میندې او ماشومان حق لري چې د ځانګړې پاملرنې څخه برخمن شي ټول ماشومان که د نکاح په واسطه او یا بې نکاح پیدا شوي وي د مساوي ټولنیز ملاتړ څخه باید برخمن شي.

**شپږ ویشتمه ماده:**

۱- هر څوک حق لري چې د ښوونې او روزنې څخه برخمن شي، ښوونه او روزنه بر سره په لومړنیو او اساسي پړاوونو کې وړیاوي لومړنۍ تعلیمات باید اجباري وي، حرفوي او تخنیکې زده کړې، عمومیت ومومي لوړې زده کړې باید د برابرو شرایطو سره د ټولو پر مخ خلاصې وي او ټول د استعداد او وړتیا په بنسټ له هغه څخه ګټه پورته کړي.

۲- ښوونه او رزونه باید د انساني شخصیت د بشپړ والې او بشري حقوقو او بنسټیزو آزادیو ته د درناوي د زیاتوالي په لوري وهڅول شي، ښوونه، روزنه باید ټولو ملیتونو، توکمونو او دیني ډلو ترمنځ تفاهم، زغم او دوستي پیاوړې کړي او د ملګرو ملتونو هڅې د سولي د پیاوړتیا لپاره پرمخ بوزي.

۳- میندې او پلرونه د خپلو ماشومانو د

**مادۀ بیست وپنجم:**

۱- هرکس حق دارد که سطح زنده گی سلامتی و رفاه خود و خانواده اش را از حیث خوراک و مسکن و مراقبتهای طبی و خدمات لازم اجتماعی تأمین کند و همچنین حق دارد که در موقع بیکاری، بیماری، نقض اعضاء، بیوه گی، پیری یا در تمام موارد دیگری که به علل خارج از اراده انسان، وسایل امرار معاش از بین رفته باشد. از شرایط آبرومندانۀ زنده گی برخوردار شود.

۲- مادران و کودکان حق دارند که از کمک و مراقبت مخصوصی بهره مند شوند. کودکان چه بر اثر ازدواج و چه بدون ازدواج بدنیا آمده باشند حق دارند که همه از یک نوع حمایت اجتماعی برخوردار شوند.

**مادۀ بیست و ششم:**

۱- هرکس حق دارد که از آموزش و پرورش بهره مند شود. آموزش و پرورش لا اقل تا حدودی که مربوط به تعلیمات ابتدایی و اساسی است باید مجانی باشد. آموزش ابتدایی اجباری است. آموزش حرفه یې باید عمومیت پیدا کند و آموزش عالی باید با شرایط تساوی کامل، به روی همه باز باشد، همه بنأ به استعداد خود بتوانند از آن بهره مند گردند.

۲- آموزش و پرورش باید طوری هدایت شود که شخصیت انسانی هرکس را به حد کامل رشد آن برساند و احترام به حقوق و آزادیهای بشر را تقویت کند. آموزش و پرورش باید با حسن تفاهم، گذشت و احترام به عقاید مختلف و دوستی بین تمام ملل، جمعیتهای نژادی یا مذهبی و همچنین توسعه فعالیتهای ملل متحد را در راه حفظ صلح تسهیل نماید.

۳- پــدر و مادر در انتخاب نوع آموزش و

ketabton.com - The Digital Library



ښوونې، روزنې د ډول په غوره کولو کې د لومړيتوب حق لري.

**اوه ويشتمه ماده:**

۱- هر څوك حق لري د خپلې ټولنې په فرهنګي او ټولنيزو فعاليتونو کې په آزاده ډول ونډه واخلي، له هنرونو څخه ګټه تر لاسه کړي او په عملي پرمختګ کې شريك او له ګټو څخه يې برخمن شي.

۲- هر څوك د خپلو علمي، فرهنګي او هنري اثارو د مادي او معنوي ګټو د ساتنې او ملاتړ حق لري.

**اته ويشتمه ماده:**

هر څوك حق لري چې په ټولنه کې د داسې نظم غوښتونکې شي چې په دې اعلاميه کې بيان شوي حقوق او آزادۍ تأمين کړي.

**نهه ويشتمه ماده:**

۱- هر څوك هغې ټولنې کې دندې او مکلفيتونه لري چې يوازې هلته د ده د شخصيت آزاده او بشپړه وده ممکنه وي.

۲- هر څوك بايد د خپلو حقوقو او آزاديو په عملي کولو کې يوازې د هغو محدوديتونو تابع وي چې د قانون په ذريعه يوازې د دې لپاره ټاکل شوي وي چې د نورو آزاديو او حقوقو په مناسب ډول احترام وشي او وپيژندل شي او په يوه آزاده ټولنه کې د اخلاقي موازينو، غوښتنو، عمومي نظم او هوساينې مراعات وشي.

۳- په هيڅ راز دغه حقونه او آزادۍ د ملګرو ملتونو د اصولو او موخو په خلاف نشي عملي کېداي.

پرورش فرزندان خود نسبت به دیگران اولویت دارند.

**مادهٔ بیست وهفتم:**

۱- هر کس حق دارد آزادانه در زنده گی فرهنگی- اجتماعی شرکت کند، از فنون و هنر ها متمتع گردد و در پیشرفت عملی و فواید آن سهیم باشد.

۲- هرکس حق دارد از حمایت منافع معنوی و مادی آثار علمی، فرهنگی یا هنری خود برخوردار شود.

**مادهٔ بیست وهشتم:**

هرکس حق دارد برقراری نظمی را بخواهد که از لحاظ اجتماعی و بین المللی، حقوق وآزادیهای را که در این اعلامیه ذکر گردیده است تأمین کند و آنها را به مورد عمل بگذارد.

**مادهٔ بیست ونهم:**

۱- هر کس در مقابل آن جامعه یی وظیفه دارد که رشد آزاد و کامل شخصیت او را میسر سازد.

۲- هرکس در اجرای حقوق و استفاده از آزادیهای خود، فقط تابع محدودیتهای است که به وسیله قانون، منحصراً به منظور تأمین شناسایی و مراعات حقوق و آزادیهای دیگران و برای مقتضیات صحیح اخلاقی و نظم عمومی و رفاه همه گانی، در شرایط یک جامعهٔ دموکراتیک وضع گردیده است.

۳- این حقوق و آزادیها، در هیچ موردی نمیتواند برخلاف مقاصد و اصول ملل متحد اجرأ گردد.

ketabton.com - The Digital Library



**دېرشمه ماده:**

پدې اعلامیه کې هیڅ یوه فقره یا ماده بایـد داسـې تعبیر نه شي چې کوم دولت، ډلي یا شـخص تـه د دي حق ورکړي په داسې فعالیت لاس پورې کړي یا داسې کـار اجـرأ کـې، چـې هـدف یـې پـه دي اعلامیه کې د ذکـر شـویو حقوقـو او آزادیـو لغـوه کول وي.

**مادۀ سی ام:**

هیچ یک از مقررات اعلامیه حاضـر نبایـد طـوری تفسـیر شـود کـه متضـمن حقـی بـرای دولتـی یـا جمعیتی یا فردی باشـد کـه بـه موجـب آن بتوانـد هریـک از حقـوق و آزادیهـای منـدرج در ایـن اعلامیه را ازبین ببرد ویا در آن راه فعالیتی بنماید.

**Thank you for reading**

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*